دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه

ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO » پیژندنه !



## څلرمه برخه :

## امنیت دخواړخیزی مجموعی په شان !

امنیت دانسان اوبشری ټولنـــی دژونددیـوي نـوي اړتیاپه شان  داړتیاوپه بهیرکي  ګام په ګام په یوازی اوټولنیزه توګه سره لوړاوارزښتمندمقام ، اویوخـــاص ځای لري له دی کبله  امنیت  راوستل اوامنیت رامنځته کیدل دټولودولتونودپاره دمهموبنسټیزومسائلوڅخه ګڼل کیدی  سی . اونن په نړی کي  امنیت دیوی څواړخیزی  مجموعی په شان په (سیاسی ،اقتصادی ،امنیتی ،دفاعی ،فرهنګی   .... اودداهسی نورواړینو مسایلوپه شان ،که دهمدی  لړلیده ورته په ځیر سره وکتل سی په یوازنی اوټولیز ډول سره،په ملی اونړیواله  سطح کي  په اسانی سره تفکیک کیدی نه سی ،دهغه ځایه څخه چي  دفاعی تړونونه عمدتآ داتحادونواویووالی په چوکات کي تربحث لاندی راوړل کیږی اوپه همدی توګه سره دیوموضوع په څیر رامنځته کیږی  اودبحث وړتیا پیداکوي  دنظریاتواولړلیدونوله مخی به یوتعریف هرومرو ورته ورکړسی  .ځکه دیووالی اواتحادونوڅخه ډېر تعریفونه رامنځته سوی دی .یوشمیر څیړونکی دهغوی دجملی څخه دینګمن  په دی باور وو چي  یووالی اواتحاد ددوو یا دڅودولتونوتر منځ درسمی اسنادواوموافقت لیکونوپه وسیلی سره دیوی ټاکلی وخت اوټاکل سوی استراتیژیواوموخودپاره دوي دخپلوګټواودملی امنیت   په خاطر رامنځته کوي .اوهمدارنګه یوشمیر نوردنظرخاوندان اوکارپوهان لکه «اتیفن والت »په دی باور دی  چي یوځای کیدل اواتحادیوډول رسمی اویاغیر رسمی

اړيکه دامنيتی مسائلوپه هکله د دوو يا څوهيوادونوترمنځ چي واکداری لري شميرل کيدی سی دده دلړليدله مخي څخه په دوو (۲) علتونوباندی اتحاد اويووالی لزوماً يوه رسمی مرسته نه ده .

لمړی - دا چي داوسنی دولتونوڅخه ډېرشمير يې دخپلومتحدينوسره درسمی تړونونو دامضا کولو څخه يې ډډه کړی .

دوهم - داچي رسمی اسناد اومکتوبونه بيله داچي دواقعيتونودپوهيدلو دپاره مرسته وکړي هغوي ويجاړه وي اوتخريبوي يې دبيلګی په توګه که څه هم دامريکا اواسرائيلوپه يووالی او اتحاد کي اوهغه دريځ چي واشينګتن داسرائيلوپه هکله يې لري هيڅ کوم بل شک اوترديی په کښي کي نسته ،مګرهيڅکله هم ددغو دووهيوادونو ترمنځ کوم رسمی تړون نه ووموجوداو داهسی تړونونه يې هم نه لرله .

## دتړون درامنځته کيدوانګيزی او عوامل :

ددی نظامی يووالی اوتړون درامنځته کيدوانګيزی او عوامل کيدی سی چي لاندنی موضوعات دشمالی اتلانتيک دسازمان په دی نظامی تړون کي په ښکاره اوبربنډتوګه سره ملاحظه او وی څيړو:

الف : يووالی ديوهيواديا دڅوډلوهيوادونو دلاس پيداکولودمخنيوی دپاره پرمسلط موقعيت باندی .

ب : يو والی دلوبغاړه هيواداويا دلوبغاړي هيوادونوپه وړاندی چي دډېروګواښونومنشاء دي .

ج : يووالی دايدئالوژيک ،تولنيزاوفرهنګی ديوشانته والی پردليل باندی .

## دتړون رامنځته کيدل ديوی مشخصی موخی دترلاسه کولو دپاره :

دفاعی تړون،دمهموتړونوديوسرليک په توګه چي دهيوادونوترمنځ جوړيږی اورامنځته کيږی اودوتلوويوبهيرته پړاوپه پړاو په تدريجی توګه اړين دی . اما مخته ددی پړاونودتولنيز اوارېنواوومشخصوموخوته درسيدلودپاره اړين ګڼل کيږی اوداهسی څرګنده کيږی چي يوڅوبنسټيزمسائل په لاندی ډول سره وڅيړل سی :

وهريونوی پړاوته درسيدوترمنځ ددی اړينواومشخصوموخودپاره دسيمی دهيوادونويودبل په وړاندی سره دباوراواعتماد دسطحی په زياتوالی سره مستقيمه اړيکه لري يا په بل عبارت سره ديوپړاوڅخه تيريدل او وبل پړاوته رسيدل ،دهيوادونوترمنځ دباوروپراختيا ته اړتيا دی . هيوادونه او ياهيواد به وتوانيږی چي دغه پړاونه تيری کړی چي دکورنۍنظم اودسيپلين درلودونکی وي اودغه دليل دهغوشرطونو څخه وهغه هيوادونو ته دی چي غواړي دناټودنظامی سازمان غړيتوب او پيوستون

ترلاسه کړی اوهمدارنګه ددوي دغه تولنیز نظم،دسیپلین اودموکراتیک والی دي چې دغړیتوب وترلاسه کولوته لاره پیداکولی سی . اودهغه په توضیح کول سره باید چې دغه برابروالی اونظم په دوو اړخونو کې شتوالی ولری .

لمړی - داچې سیاسی،اقتصادی اودفاعی حوزي دیوی برابروالی اوهماهنګی درلودونکی وي . دوهم - داچې دګټویو ګډ تعریف ،شرایط اوهمداسی نورمسائل اودنظریاتواودلړلیدونو یووالی سره ولری . دبله خوا څخه باید پاملرنه ولرو هغه داچې ددفاعی تړونونوپه جوړه ولواورامنځته کولوکې باید چې دهیواد ودفاعی سیاست ته هم تینګه پاملرنه ولرو .اما څرنګه چې دمخه وویل سو دیوی دفاعی تړون دموافقت لیک لاسلیک(امضا) کول، اودوتلووبهیرته پړاوپه پړاو په تدریجی توګه اړین دی چې دغه پړاونه پردریوبرخوویشل سی :

## لمړی پړاو : امنیتی موافقت لیکونه :

امنیتی موافقت لیکونه وهغه موافقت لیکونو ته ویل کیږی چې ددوویا څو(سیمیز اوغیر سیمیزو) هیوادونوترمنځ لاسلیک کیږی اوپه بعضی مواردوکښې دغه ډول موافقت لیکونه یوبل ته داطلاعاتوراکړه ورکړه دمجرمینواوترورریستانوغوښتل اوورکول او یوبل ته ورتسلیمه ول ،دمخدره توکودقاچاق کوونکواودهغه مجریمینو ،جرایمو،اوهغه ډولوتپلویه وړاندی مبارزه کول چې دیوشمیرسازمانونولخوا سازمان ورکول کیږی ددوي ، ددغوموافقت لیکونوپه لاسلیک کولوسره رامنځته کیږی اوددغه سازمانونو اوډولوتپلویه وړاندی مبارزه اوددوي دورانه ونکوکړنوڅخه په اقتصادی ،امنیتی اونوروبرخوکې مخنیوی صورت مومی .

## دوهم پړاو: دفاعی موافقت لیکونه :

دفاعی موافقیت لیکونه پراخه سیمی اوخوزی دامنیتی موافقت لیکونوپه پرتله دځانه سره لري اوددغه موافقیت لیکونوسیمی اوحوزی دلاندنی مسائلوڅخه عبارت دی :

**الف – په اقتصادی برخه کې**:په ګډه توګه سره ددفاعی صنایعواو وسائلواونورواړینو

شیانودپانګی اچونی دلاری اوددغوصنایعودعلم اوزده کړی راکړه ورکړه په ګډ دول سره .

**ب – دزده کړواوڅیړنوپه برخه کې** :لکه ومتخصصوځواکونوته زده کړی ورکول په سیمواوحوزیوکښې دکلکواوسختودفاعی وسائلواوداسانه دفاعی وسائلو زده کړی اووڅیرنیزودفاعی مرکزونو پراختیاورکول .

**ج - په نظامی برخه کې** : لکه دمینونوراټول اوپه هغه سیمو کښې چې مینونه ایښودل سویدی هغه سیمی د مینونوڅخه پاکول ،پرنظامی تمریناتواوتطبیقاتوباندی دسیمی دڅارنکوهیوادونودخوا څارنه ،دپردی هیوادونووځواکونوته دنظامی اډیو نه ورکول ، چې پرغړیوهیوادونواویا دغړوهیوادونوپریوهیوادباندی دتیری په خاطرکارورنه واخلی ،نودهغه څخه په کلکه مخنیوی اودغړیوهیوادونولخوا یوپربل باندی تیری نه کول اوداختلافونه حل کول بیله زوراوځواک څخه کاراخیستل .

**د ـ داطلاعاتوپه برخه کې** :ددفاعی کړنولارو پيل اوسپيځلتيا بيله کومی تير وتنی نه ،د دفاعی سياستونوپه هکله داطلاعاتوراکړه ورکړه .

**و – په سياسی برخه کې** :لکه دسياسی اورسمی جګپوروچارواکوترمنځ دغونډو پرانستل داړيکودپراختيا دپاره اوداختلافونودحل اودهغه دليری کولوپه خاطرزياراوهاند .

**هـــ – درسنيوپه برخه کې** : لکه وجګړی ته ځان جوړه ول ديو هيواد دامنيتی کيدوپه وړاندی دروانی جګړی اودسړی جګړی له لاری دسيميزوځواکونودخوا.

## دريم پړاو: نظامی موافقت ليکونه :

دنظامی موافقت ليکونولاسيک کول اورامنځته کيدل ولاندنی مسائلوته اړتيا لري :

**الف** : دسيمی دهيوادونوګډه پوهه دګواښونودمفاهيمو،شرايطواوپه دی اړه نور مسائل اوموضوعات چې په مختلفوبرخوکی له دی ګواښونوسره اړيکی لري .

**ب** : ګډی ګټې .

**ج** : ګډ ګواښونه .

**د**: دسيمی دلوبی کوونکودامنيت پراختيا.

**و**: ددندو ويشل او دامنيت راوستلواودامنيت جوړه ولوپرنسيپونه اوچاري . /

(نوربيا،په پنځمه برخه کې ادامه لري)

**اخيځليکونه:- دايسنا نيوز څخه ،ادامه لری نوربيا په پنځمه برخه کې.**